که خپل ملګري ته دې د جمعې په ورځ وویل چې: چپ شه، په داسې حال کې چې امام خطبه وایي، نو تا د جمعې فضیلت له لاسه ورکړ

له ابو هریره - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «که خپل ملګري ته دې د جمعې په ورځ وویل چې: چپ شه، په داسې حال کې چې امام خطبه وایي، نو تا د جمعې فضیلت له لاسه ورکړ».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د جمعې په خطبه کې د ګډون کوونکو لپاره له فرضي آدابو څخه: د خطبې اوریدل دي؛ تر څو په نصیحتونو کې غور وکړي، او دا چې چا خبرې وکړې - که څه هم لږې وي - پداسې حال کې چې امام خطبه وایي، او بل چا ته ووایي چې : "چپ شه" او یا "غور شه" نو د جمعې د لمانځه فضیلت یې له لاسه ورکړ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3107